(١)

## همدا اسلام دی

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا»**ژباړه:**« او څوک ښه دين داره له هغه چا څخه دی چې الله ته يې ځان وسپاره او په نېکوکارۍ يې لاس پوري کړ، په يوه لاره لوري روان شو، د ابراهيم (ع) د مسلك پيروي يې وکړه، د هغه ابراهيم(ع) د مسلك، چې الله په دوستۍ نيولی ؤ»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

حقيقي اسلام دادی چې ځان الله جل جلاله ته تسليم کړي او د هغه تابعداري وکړي او هغه ته غاړه کيږدي او همدارنګه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم اقتداء وکړي او د هغه سره محبت او د هغه تابعداري وکړي خه اخلاق په ځان کې پيدا کړي او عاجزي ولري پاک نفسي وسی او د خلکو سره په چال او چلند کې په ورين تندي چلند وکړي نرمښت وکړي رحمت وکړی او همدارنګه د ټولو مخلوقاتو سره په ښه ډول چلند وکړي جوړښت وکړي او همدارنګه تمدن او آبادي رامنځته کړي اسلام داسی يو روش او لاره ده چې د ژوند لپآره ټولي لاری رامنځته کړي دي او د خپلو اتباعو او تابعدارانو لپآره د هغوي په حرکاتواو همدارنګه په ټولو کارونو کې د هغوې لپآره يي لاره ښودلي ده.

د اسلام مبارک دین خلک خیر او ښیګڼي ته رابلي او همدارنګه په دین باندی د دنیا آبادي ته یي رابلي نه دا چې په دین باندی دنیا ویجاړه کړی شي دین خلک رحمت امنیت سلامتیا او د ټول بشریت لپآره د امن او امان غوښتنه کوي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ» ژباړه:« اې محمده (ص)!] موږ چي ته لیږلی یې، دا په اصل کښي د نړیوالو په باب زموږ رحمت دی. (موږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لیږلی یې».

څوک چي د اسلام په ارکانو کې فکر وکړي چې د جبرییل علیه السلام په حدیث کې راغلي دي کله چې د پیغمبر صلی الله علیه څخه یي پوښتنه وکړه چې اي محمده د اسلام په هکله ماته خبر راکړه؟ نو پیغمبر صلی الله علیه ورته وفرمایل:اسلام دادی چې ته پدي باندي ګواهي وکړي چې نشته لایق د عبادت مګریو الله دی او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رسول دی، لمونځ ورکړي زکات ورکړی ورژه ونیسي او بیت الله شریف حج وکړي په هغه صورت کې چې ته ددی توان ولري نو انسان پدي کې دا درک کول شي چې دا د سم شخصیت په جوړونه کې رول لري کله چې انسان پدي فکر اوعقیده کې چې الله جل جلاله یو دی شریک نلري او پیغمبر صلی الله علیه د هغه بنده او رسول دی نو د دغه ګواهي د ثابتتولولپآره هڅه کوي او د هغه تابعداری کوي دا په ځان مني چې الله جل جلاله د هغه څارنه کوي د هغه د امرونو تابعداري کوي او د هغو شیانو څخه ځان ساتي چې منع کړي دي او پخپلو حدودو کې چلیږي په هغه څه کې کوتاهي نکوي چې مکلف کړی شوی دی او د هغه څه غوښتنه نکوي چې ورڅخه ندي غوښتل شوي همدارنګه هڅه کوي چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ښه ډول سره تابعداري وکړي او د خلکو سره پداسي ډول سره چلند کوي چې څنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم چلند کړي وو چې د رحمت نرمښت عاجزي او د نرمښت څخه خالي نه وو.

نو لمونځ چې د اسلام لوي رکن ګڼل کيږي د هغه ګټه په بنده باندی راګرځي هغه د فاحشو او د منکرو کارونو څخه ساتي او د الله جل جلاله په لاره يي برابروي او مسلمان په سوله او سلامتيا کښ خپل ځان سرهاو همدارنګه د ټول ټولني سره زوند کوي لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ» ژباړه:« اې پيغمبره (ص)!] هغه کتاب ولوله چې تا ته د وحيي په واسطه درليږل شويدی او لمونځ قايم کړه. په باوري ډول لمونځ له بدلمنی او ناوړو چارو څخه منع کوي، او د الله ياد له دي څخه هم ډېر لوی شی دی. الله په هغه څه پوهيږي چې تاسي يې کوئ».
همدارنګه د زکات ورکول ايماني او بشري اړخ پکې په نظر کې نيول شوی ځکه چې پدي سره د انسان نفس د مادياتو څخه ساتل کيږي انسان خپله دا درک کوي چې مال خپله وسيله ده هدف ندی او همدارنګه دا د همکاری دروازه پرانيزي او د تراحم او د نورو په حالاتو باندي ځان پوهول او د هغوي احساس لرل رامنځته کوي نو مسلمانه ټولنه هيڅکله هم ځانځاني منفي ګرايي نه پيژني زمونږ دين د ورکړي او همدارنګه د قرباني او پخپل ځان باندي د نورو غوره کولو دين دی نه داچې خپل ځان په نورو غوره کړي او بخيلي وکړي مومن مسلمان بايد تل زم ولري او همدارنګه سخي وي، الله جل جلاله د انصارو په صفت کې داسی فرمايلي دي:« وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ» ژباړه:« (او دا مالونه د هغو خلکو (انصارو) لپاره هم دي) چې د دغو مهاجرينو له راتګ څخه مخکي يې ايمان راوړی، په دې کور (مدينه منوره) کښې استوګن ول. دوی له هغو خلکو سره مينه کوي چې دوی ته يې هجرت کړی دی؛ او هر څه چې هغو ته ورکړل شي، د هغو څه اړتيا قدري هم دوی پخپلو

زړونو کښي نه احساسوي؛ او پر خپل ځان باندي نورو ته ترجيح ورکوي که څه هم پخپله محتاج وي. حقيقت دا دی، کوم خلك چي د خپل زړه له تنګۍ څخه وژغورل شول، همغوی بري موندونکي دي».
همدارنګه روژه د مسلمان اخلاق سموي او مسلمان کې دا احساس پيدا کوي چې الله جل جلاله د هغه څارنه کوي او مسلمان پدي باندي روزي چې صبر وکړي او همدارنګه زغم ولري او خپل نفس د هغو شيانو څخه وساتي چې الله جل جلاله په هغه باندي غوصه کيږي پيغمبر صلی الله عليه وسلم مونږ ته فرمايلي دي:روژه پخپله د انسان لپآره يو وقايه ده که يو څوک ورژه نيسي نو هغه د کنځلي نکوي او که چيرته څوک ورته کنځله وکړي اوجنګ ورسره وکړي نو هغه د ورته ووايي چې زه روژه يم همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې دروغ او په هغه باندي عمل کول پری نږدي نو الله جل جلاله خو ديته اړتيا نلري چې د هغه لپاره څوک خوراک اوڅښناک پريږدي.
همدارنګه حج پخپله يو اخلاقي او سلوکې کړنه ده چې بايد دا د حج څخه مخکي د حج په دوران کې او د حج څخه وروسته انسان په ځان کې راولي الله جل جلاله فرمايي:« الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ»ژباړه:« د حج مياشتي ټولو ته څرګندي دي، څوك چي په دې ټاکليو مياشتو کښي د حج نيت وکړي، هغه بايد په دي خبر اوسي چي د حج په دوران کي له هغه څخه څه شهواني عمل، څه ناوړه فعل او څه جنګ جګړه و نه شي. او تاسي چي څه نيك عمل کوئ الله پرې پوهيږي. د حج د سفر له پاره د لاري توښه درسره واخلئ؛ او تر هر څه ښه د لاري توښه پرهېزګاري ده؛ نو اې هوښيارانو! زما له نافرمانۍ څخه ډډه وکړئ.»، همدارنګه ابي هريره رضي الله عنه فرمايلي دي دی وايی چې ماد پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يي:څوک چې د الله جل جلاله لپآره

حج وکړي او فسق و فجور پکې ونکړي هغه داسی ګرځي چې ګویا د مور څخه نوي پیدا شوی وي همدارنګه د اسلام ټول ارکان داسی اغیزي لري چې ټولني ته ښیګڼه او امن اوامنیت او برقراري ورپه برخه کوي.
څوک چې په ژوره سره زمونږپه دین کې فکر وکړي هغه دا درک کولي شي چې دا د خو اخلاقو دین دی او رسالت یې هم ددی لپآره راغلي ترڅو دغه ښه اخلاق بشپړ کړي لکه چې پیمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زه یقینادی لپآره رالیږل شوی یمه ترڅو خه اخلاق بشپړ کړم نو د اسلام د مبارک دین مقصد دادی چې ریښتینولي، امانتدارني،وفاداری، نیکي، صله رحمي، سخاوت د خلکو نجامت شهامت مردانګي او د خلکو څخه د بدیو لري کول د بیوزلو سره مرسته کول اوهمدارنګه په حیواناتو باندی نرمښت کول او داسی نور ښیګڼي راځي چې دا ټول د اسلام قاصد دي.
بي له شکه د اسلام د مبارک دین بنسټ او د هغه د رسالت رازونه او د هغه مقاصد او هدفونه ټول هغه څه دي چې د اوسني عصر د غوښتنو سره سم باید هغه پلي کړی شي او دا دیته اړتیا لري چې د ټولو اوسني ننګونو مخنیوي په همدي باندي وشي او د ټولو هغو ترهګریزو او تندروو ډولو مخنیوي پري وشي چې د دي پرخلاف باندي کار کوي او د هغوي غلط فکر باید لمنځه یوړل شي همدارنګه هغه غلط فکر اوتنګسیا چې په خلکو باندي دوي راوستي ده لمنځه یوړل شي او یو پراخه او آسانه نړۍ ته باید داخل کړی شي ترڅو خلک په هغه باندي ځان پوه کړي چې د بصیرت خاوندان دا وړنادي کړي او د خلکو او د هیوادونو ګټي پکې خوندي شي او د بشري ارزښتونو ساتنه پکې وشي چې په ترڅ کي امن او امان او برقراري او سوله رامنځته شي او د ټول بشریت لپآره خوشي رامنځته کړي.
د مهمو واجباتو او د دندو څخه چې هر مسلمان باید هغه ترسره کړي هغه دادی چې خلکو ته د اسلامي دین ټول اړخونه بیان کړي ترڅو ټوله نړۍ

پدي باندي پوهه شي چې د اسلام مبارک دين د سولي دين دی او هغه ته بايد بلنه ورکړي اود اسلام د مبارک دين شان لوي کړي ځکه چې سوله او سلامتيا د الله جل جلاله د نومونو د جملې څخه ګڼل کيږي الله جل جلاله فرمايي:« هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ» ژباړه:« الله هغه ذات دی چي له هغه پرته کوم هيڅ معبود بر حق نشته. هغه باچا، ډېر پاک، له ټولو عيبونو څخه سالم، امان ورکوونکی، ساتونکی دی»او د اسلام د مبارک دين ستري مشي هم په سلامتيا باندي ده لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا» ژباړه:« او څوك چي تاسي ته سلام واچوي، هغه ته سمدلاسه مه واياست چي ته مومن نه يې.»او په جنت کې هم د جنت خاوندان ستړي مشي په سلام باندی کوي لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ سَلَامٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ» ژباړه:« ملايکي به له هري خوا څخه د هغو د هرکلي لپاره راشي. او هغو ته به ووايي: "پر تاسي سلامتيا ده، څنګه چي تاسي په دنيا کښي له صبر څخه کار واخيست؛ د هغه په برکت نن تاسي ددې وړ ګرځېدلي ياست."- نو څه ښه دی، دغه د اخرت کور!»، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم به د هر لمانځه څخه وروسته به دا دغه دعا ويله:« اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ ، وَمِنْكَ السَّلاَمُ ، تَبَارَكْتَ يا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ».

د اسلام مبارک دين داسی يو دين دی چې د انسان د لپاره د هغه د کرامت ساتنه کوي د غيبت څخه او همدارنګه د بهتان او د حسد اود کيني او د سپکاوي څخه ساتي او همدارنګه انسان ددی څخه منع کوي چې په هيڅ ډول به چاته زيان ورسوي برابره خبره ده که دا په وينا سره وي که په کړني سره وي او که په اشاری سره وي لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ

الظَّالِمُونَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! نه دي نارينه پر نورو نارينه ؤ ملنډي وهي، کېدی شي چي هغوی له دوی څخه غوره وي. او نه دي ښځي په نورو ښځو ملنډي وهي، کېدای شي چي هغوی له دوی څخه غوره وي. پخپلو منځو کي يو د بل عيب مه لټوئ، او مه يو بل په بدو نومونو سره يادوئ. له ايمان راوړلو وروسته په فسق کي نوم پيدا کول ډېره بده خبره ده. کوم کسان چي دغه چار چلند پرېنږدي (توبه ونه باسي)، همغوی ظالمان دي.»، همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې خپل بل ورور ته په اوسپنه باندی اشاره وکړي يعني وسپنه هغه ته نيغه کړي نو ملايکي به هغه باندي په هغه باندي ترهغه لعنت وايي ترڅو چې دا پريږدي اګرکه د هغه سکه ورور هم وي، همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم مونږ لدي څخه منع کړي يو چي په مخ باندي څوک ووهو همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم له مونږ څخه ددی غوښتنه کړي چې په حيواناتو باندي بايد نرمښت وکړو.

او کله چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه د هغه ښځي په هکله پوښتنه وشوه چې هغه روژه نيوله او لمونځونه به يی کوو خو ګاونډيانو ته به يی زيان رسوو نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هغه به په اور کې وي، همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ باندي ايمان او باور لري نو هغه د خپل ګاونډي ته زيان نه رسوي او څوک چېپه الله جل جلاله او د قيامت په ورځ باندی ايمان لري د خپل ميلمه قدر او عزت دی وکړي او څوک چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري نو د خير اود ښيګني خبری دی وکړي او که داسی نه وي او غلی دی کيني.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

پيغمبر صلی الله عليه وسلم د اسلام د مبارک دين لارښوونې مونږ ته بيان کړي دي او همدارنګه نيک اخلاق او لوړ ارزښتونه يی مونږ ته پريښي دي او د خپلو اصحابو په زړونو کي هغه همداسی ژوندي پاتي شوي دي تر دی چې دا ټول د هغوي د ژوند يوه برخه ګرځيدلي وه چ د ټولو خلکو سره به يي په همدي ډول ژوند تيرولو جعفربن ابي طالب رضي الله عنه د حبشي د بادشا يا د نجاشي په وړاندي چې کله ودريدو نو دغه ارزښتونو يادونه يي وکړه او د دغه لويو اخلاقو يادونه يي په ډير ښه ډول سره وړاندي کړه او په باوري ډول يی خبری ورته وکړي او ورته يی وويل: ای بادشا مونږ داسی قوم وو چې جاهلان وو د بوتانو عبادت به مو کوله مرداره به مو خوړله فاحش کارونه مو کول صله رحمي مو پري کوله ګاونډيان مو هير کړي وو پياوړی او قوي به په مونږ کبيه ضعيف باندي ظلم کولو مونږ همداسی ژوند کولو تردي چې الله جل جلاله مونږ ته رسول وليږلو چې زمونږ د جملی څخه وو چې مونږ د هغه نسب د هغه ايمانداري او د هغه امانتداري ريښتينولي او د هغه پاکي ټول پيژنو هغه مونږ د الله جل جلاله لوري ته وبللو ترڅو يو شو د هغه عبادت وکړو او هغه څه پريږدو چې مونږ او زمونږ پلرونو کول چې د بوتانو او دکانو عبادت وو مونږ ته يی پدی باندي امر وکړو چې ريښتيا خبری وکړو امانت په ښه ډول سره اداء کړو صله رحمي وکړو د ګاونډيانو سره ښه چلند وکړو او همدارنګه د ويني د تويوني مخنيوي وکړو او د فاحشو او درغو څخه منع کړو او همدارنګه د يتيم د مال د خوړولو او په يو پاکدامنه ښځي باندی د تهمت د پوري کولو څخه يي منع کړو او همدارنګه

مونږ ته یی پدي باندي امر وکړ چې یوازې د الله عبادت وکړو او دهغه سره شرک ونکړو مونږ ته یي په لمانځه روژه زکات او داسی نورو کارونو باندي یی امر وکړ.
نو حقیقي او واقعي مسلمان هیڅکله دروغ نه وایي خیانت نکوي دوکه نکوي حقیقي مسلمان هغه څوک دی چې خلک د هغه د لاس او د ژبي څخه په امان کې وي او حقیقي مومن هغه څوک دي چې خلک د هغه څخه په امان کې وي اود هغوي وینی او د هغوي آبرو او د هغوي مالونه او نفسونه په امن او امان کې وي واقعي مسلمان هغه څوک دي چې په هغه باندي د اسلام اخلاق اغیزه کړی وي خلکو ته یواځې ښیګڼه ورسوي او همدارنګه که چیرته مونږ غوړو د واقعي مسلمان لپآره یو واقعي تعریف او پیژندنه وکړو نو ددی څخه به ښل غوره تعریف نوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم مونږ ته دا بیان کړي دی چې واقعي مسلمان هغه څوک دی چې نور خلک د هغه ژبي او د لاس څخه په امان کې وي،لکه چې فرمایلي دي: ایا تاسو ته د مومن په هکله خبر درنکړم هغه څوک دی چې خلک د هغه څخه د هغوي مالونه او د هغوي نفسونه په امان کې وي او مسلمان هغه څوک دی چې خلک د هغه د ژبي او د لاس څخه په امن او امان کې وي او مجاهد هغه څوک دي چې د الله جل جلاله د طاعت لپآره د خپل نفس سره جهاد وکړي او مهاجر هغه څوک دی چې د ګناهونو او د تیروتونو څخه ځان وژغوري.
د اسلام د مبارک دین رسالت د انسانیت، حکمت، نرمښت، رحمت، پراخی، د مردانګي د یووالي رسالت دی نه دا چې بی اتفاقي رامنځته کړي اسلام مبارک دین بشپړ عدالت او بشپړ رحمت او همدارنګه بشپړ زغم او آسنتیا اوهمدارنګه انسانیت یی په نظر کې نیولي نو هر هغه څه چې دغه لوړی معنا ګاني ثابتولی شي هغه د اسلام د مبارک دین د جملي څخه ګڼل کیږي او هغه څه چې ددی سره په ټکر کي وي نو په حقیقت

کې دا د اسلام د مبارک دین او د هغه د مقاصدو او د اهدافو سره په ټکر کې دي.

**ای الله مونږ ښه اخلاق راپه برخه کړه ځکه چې له تا پرته بل څوک اخلاق مونږ ته نشي راکولی او زمونږ ګناهونه وبخښه ځکه چې له تا پرته بل څوک زمونږ ګناهونه نشي بخښلی د مصر ولس پوځ او پولیس د هر ډول بدیو څخه وساته.**